حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

ثَلاَثَةُ الأُصُولِ وَأَدِلَّتُهَا | بشتو | پښتو

# درې گوني اصول او دلايل يې

شيخ محمد التميمي رحمه الله

ⓒجمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٤هـ

*فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر*

ابن عبدالوهاب ، محمد
الأصول الثلاثة - بشتو. / محمد ابن عبدالوهاب - ط١. .- الرياض ، ١٤٤٤هـ

٦٥ ص ؛ ..سم

ردمك: ٦-١-٢-٨٤٠٢-٦٠٣-٩٧٨

١- العقيدة الاسلامية ٢- التوحيد أ.العنوان

ديوي ٢٤٠ ١٤٤٤/٨٥٠٩

**رقم الإيداع: ١٤٤٤/٨٥٠٩**
**ردمك: ٦-١-٢-٨٤٠٢-٦٠٣-٩٧٨**

# ثَلَاثَةُ الأُصُولِ وَأَدِلَّتُهَا

# درې ګوني اصول او دلايل يې

لِلشَّيْخِ

مُحَمَّدٍ التَّمِيمِي رَحِمَهُ اللهُ

شيخ محمد التميمي رحمه الله

بِسْمِ اللهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## درې ګوني اصول او دلایل یې

پوه شه -الله تعالی دې پر تا ورحمیږي- چې د څلورو مسایلو پیژندل پر موږ لازم دي:

لومړی: علم دی، چې مراد ترې په دلائلو سره د الله تعالی، د هغه د نبي او د اسلامي دین پیژندل دي.

دویمه: پرې عمل کول.

دریمه مساله: علم ته بلنه ورکول.

څلورمه: په دې لار کې په ضرر لیدلو صبر کول.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَٱلۡعَصۡرِ ١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣﴾

قسم دی په عصر (مازدیګر یا زمانه) (۱)

یقینا انسان خامخا په تاوان کې دی (۲

مګر هغه کسان چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه یې کړي دي او پر حق یې سپارښتنه کړې ده او پر صبر یې سپارښتنه کړې ده). [العصر: ۱-۳].

شافعي رحمه الله تعالی ویلي: «که الله تعالی خپلو بندګانو ته له دې سورت پرته نور دلایل نه و رالیږلي نو همدې ورته بسنه کوله».

او بخاري رحمه الله فرمايلي دي: باب دی په دې اړه چې علم له وینا او عمل څخه مخکې اړین دی؛ او دلیل یې د الله تعالی دا قول دی: ﴿فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ...﴾[محمد:۹]، نو له وینا او عمل څخه مخکې یې په علم پیل وکړ.

پوهه شه -الله دې پر تا ورحمیږي-: چې د دغو درېیو مسئلو زده کړه او پرې عمل کول پر هر مسلمان او مسلمانې واجب دي:

(لومړۍ): دا چې الله موږ پيدا کړي يو، موږ ته يې روزي راکړې او بې سرنوشته يې نه يو پرېښي؛ بلکې موږ ته يې يو رسول راليږلی، نو چا يې چې اطاعت وکړ جنت ته به داخليږي او چا يې چې نافرماني وکړه اور ته به داخليږي.

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده:

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ رَسُولٗا شَٰهِدًا عَلَيۡكُمۡ كَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ رَسُولٗا ۝١٥ فَعَصَىٰ فِرۡعَوۡنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذۡنَٰهُ أَخۡذٗا وَبِيلٗا ۝١٦﴾

(بېشکه موږ تاسې ته همغسې يو رسول پر تاسې د شاهد په توګه لېږلی لکه چې فرعون ته مو يو رسول لېږلی و (۱۵) خو فرعون له هغه رسوله سر غړونه وکړه؛ نو بيا مو ډېر سخت راګير کړ). [المزمل:۱۵-۱۶].

دويمه مساله: الله تعالى نه خوښوي چې په عبادت کې له هغه سره څوک شريک شي، نه کومه مقربه ملايکه او نه کوم استول شوی نبي؛ دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا ١٨﴾

(او دا چې جوماتونه د الله لپاره دي، نو تاسې له الله سره هیڅوك مه رابولئ). [الجن سورت: ۱۸ ایت].

دريیمه: چا چې د رسول اطاعت کړی وي او الله يې يو ګڼلی وي، هغه ته روا نه ده چې د هغه چا سره دوستي وکړي چې د الله او د هغه له رسول سره يې دښمني وي، که څه هم ډېر نږدې خپلوان يې وي.

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٢٢﴾

(داسې يو قوم به ونه مومې چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، (او بيا) له هغه چا سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول دښمني يې کړې وي، که څه هم پلرونه، زامن، ورونه يا خپله کورنۍ يې وي. د هغوی زړونو کې الله ايمان اچولی او په خپل روح سره يې د هغوی ملاتړ کړی. او هغوی به داسې جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندې به يې ویالې

بهيږي، تلپاتې به وي په هغو کې. له هغوی څخه الله راضي دی او هغوی له هغه راضي دي. دا خلک د الله ډله ده، خبر اوسئ چې د الله ډله په رښتیا بریالی کېدونکي ده). [سورت المجادلة: ايت ۲۲].

پوهه شه - الله دې تا ته د خپل طاعت لارښوونه وکړي- چې حنيفيت -يعني د ابراهيم دين- دا دی: چې ته يوازې د الله عبادت وکړې او د هغه لپاره دين خالص کړې، او په دې سره الله ټولو خلکو ته امر کړی او د همدې لپاره يې پيدا کړي دي؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

(او ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې زما عبادت وکړي). [الذاريات سورت: ۵۶ ايت]، او د "يَعْبُدُونِ" معنا دا ده چې الله يو ومني.

او لوی شی چې الله پرې امر کړی دی توحيد دی، او هغه دې ته وايي چې عبادت يوازې الله لره وشي.

او لوی شی چې الله ترې منع کړې ده: شرک دی، او هغه له الله سره د بل چا رابلل دي.

او دليل: د الله تعالی وينا ده:

﴿وَٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشْرِكُواْ بِهِۦ شَيْـًٔا...﴾

(او (يوازې) د الله تعالی بندګي وکړئ او هيڅ شی ورسره مه شريکوئ...) [النساء سورت: ۳۶ ايت].

کله چې تاته وويل شو: هغه درې ګوني اصول کوم دي چې

پر انسان یې پېژندل واجب دي؟

نو ته ووایه چې: بنده لره خپل رب، خپل دین او خپل پیغمبر محمد -صلی الله علیه وسلم- پېژندل دي.

## [لومړی اصل]

نو که چېرته درته وویل شو: رب دې څوک دی؟

ته ووایه: رب مې هغه الله دی چې زه او ټول عالم یې په خپلو نعمتونو پاللي یو، او هغه مې معبود دی چې له هغه پرته مې هیڅ بل معبود نشته، او دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ٢﴾

(ټولې ستاینې (صفتونه) خاص الله لره دي، چې د عالمیانو پالونکی دی). [الفاتحة: ۲]. او له الله پرته چې هر څه دي هغه عالم دی، او زه هم له دې عالم څخه یو یم.

(که درته وویل شو چې): خپل رب دې په څه پېژندلی دی؟

نو ته ورته ووایه: د هغه (د قدرت) په نښانو او مخلوقاتو.

د هغه له نښانو څخه؛ شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ دي.

او د هغه له مخلوقاتو څخه: اووه اسمانونه او څوک چې پکې دي، او اووه ځمکې او څوک چې پکې دي، او څه چې د دواړو تر منځ دي.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيۡلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُۚ لَا تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَٱسۡجُدُواْ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ

تَعۡبُدُونَ﴿٣٧﴾

(او د هغه له نښانو څخه شپه، ورځ، لمر او سپوږمی ده، مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمی ته، او (یوازې) هغه الله ته سجده وکړئ چې هغه (ټول) يې پيدا کړي دي، که چېرې تاسو یوازې د هغه بندګي کوئ). [فصلت سورت: ۳۷ ایت].

او د الله تعالی وینا:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِى ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴿٥٤﴾

(بې شکه ستاسو رب هغه الله دی چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، بیا يې پر عرش استواء (د عرش د پاسه شو) وکړه، شپه په ورځې باندې پټوي چې هر یو په تلوار سره لټوي او لمر، سپوږمی او ستوري (يې پیدا کړل) چې د هغه په امر غاړه ایښودونکي دي. خبر اوسئ! پیدا کول او حکم چلول خاص هغه لره دي، الله برکت والا دی، د ټولو مخلوقاتو رب). [الأعراف سورت: ۵۴ ایت].

او رب معبود ته ویل کیږي؛ دلیل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن

قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٢﴾

[اى خلکو! د خپل رب عبادت وکړئ، هغه (رب) چې تاسي او له تاسي وړاندي خلک يې پيدا کړي، کېداى شي چې تاسي ځانونه وژغورئ (د الله تعالى له عذاب څخه) (٢١).

هغه (رب) چې ستاسې لپاره يې زمکه فرش (هواره) کرځولې ده او هسک (آسمان) يې چت او د آسمان له لوري يې اوبه نازلې کړې دي، نو راويستي يې دي په دې اوبو سره هر ډول مېوې ستاسې لپاره روزي (رزق)، نو له الله سره شريکان مه نيسئ، په داسې حال کې چې تاسې پوهيږئ (چې الله شريک نه لري). [البقرة سورت: ٢١-٢٢ ايتونه].

ابن کثير رحمه الله فرمايلي: "د دې شيانو خالق؛ همغه د عبادت وړ دى".

او د عبادت هغه ډولونه چې الله امر پرې کړى دى: لکه اسلام، ايمان او احسان؛ او دغه راز دعاء، ويره، اميد ساتل، توکل، ليوالتيا، ډار، عاجزي، وېره، رجوع، مرسته غوښتل، پناه غوښتل، تنکسه کې د مرستې غوښتنه، حلالول، نذر او نور هغه عبادتونه چې الله امر پرې کړى دى - ټول الله تعالى لره دي؛ او دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا ١٨﴾

(او دا چې جوماتونه د الله لپاره دي، نو (هلته) له الله سره هیڅوك مه رابولئ). [الجن سورت: ۱۸ ایت].

نو كه چا له دې عبادت څخه كوم شی له الله پرته بل چا ته وكړ، هغه مشرك او كافر دی، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ١١٧﴾

(او څوك چې له الله سره بل معبود رابولي چې په اړه یې كوم دلیل هم ورسره نشته؛ نو حساب یې له خپل رب سره دی، پرته له شكه چې داسې كافران نه بریالي كیږي). [المؤمنون سورت : ۱۱۷ ایت].

او په حدیث كې دي چې:

"الدُّعَاءُ مُخُّ العِبَادَةِ".

«دعا د عبادت مغز دی».

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ٦٠﴾

(او ستاسو پالونكي ویلي دي چې ما درووبولئ سوال به مو قبول كړم یقیناً هغه كسان چې زما له عبادته لویي كوي ژر به په سپكاوي سره جهنم ته ننوځي). [غافر سورت: ۶۰ ایت].

او د خوف دليل د الله تعالى دا قول دى:

﴿...فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾

(...ګورئ بيا) مه ترې ډارېږئ او مانه وډار شئ که تاسو ريښتيا مومنان ياست). [آل عمران سورت: ١٧٥ ايت].

او د رجاء دليل د الله تعالى دا قول دى:

﴿...فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا﴾

(...نو هر څوک چې له خپل رب سره د ملاقات هيله لري هغه دې سم کارونه وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې بل هېڅوك نه شريکوي). [الكهف سورت: ١١٠ ايت].

او د توکل دليل، د الله تعالى دا قول دى:

﴿...وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾

(...او په الله بروسه وکړئ که (رښتيني) مومنان ياست). [المائدة سورت: ٢٣ ايت]، او د الله تعالى دا قول:

﴿...وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓ...﴾

(...او څوك چې پر الله بروسه وکړي نو همغه ورته بسنه کوي...) [الطلاق سورت: ايت ٣] .

او د رغبت، ډار او خشوع دليل د الله تعالى دا قول دى:

﴿...إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ

﴿وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ﴾

(...بې شکه هغوی (ټولو) په نېکيو کې بيړه کوله او موږ يې (د ثواب) په مينه او (له عذاب نه) په وېره وربللو، او خاص موږ ته غاړه اېښودونکي وو). [الأنبياء سورت: ٩٠ ايت].

او د وېرې دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿...فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِ...﴾

(...نو له هغوی مه وېرېږئ بلکې له ما ووېرېږئ...) [سورت المائدة: ٣ ايت].

او د رجوع دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ...﴾

(او خپل پالونکي ته مو ورو ګرځئ او هغه ته غاړه کېږدئ...) [الزمر سورت: ايت ٥٤].

او د مرستې غوښتو دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٥﴾

(خاص (يوازې) ستا عبادت کوو، او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو). [الفاتحة سورت: ٥ ايت]، او په حديث کې دي چې:

"إِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ".

«که مرسته غواړې، نو له الله څخه مرسته وغواړه».

او د پناه غوښتو دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ۝١﴾

(ووايه د سباوون پر رب پناه غواړم). [سورت الفلق: ايت ١]، او

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١﴾

(ووايه د (ټولو) خلکو پر پالونکي پناه غواړم). [الناس سورت: ١ ايت].

او د تنګسې پر مهال د مرستې غوښتو دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ...﴾

(هغه وخت چې کله تاسي خپل پروردګار ته فرياد کاوه، په ځواب کې هغه وفرمايل...) [الأنفال سورت:٩ ايت].

او د ذبحې دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٦٢ لَا شَرِيكَ لَهُۥ...﴾

(ورته وايه: بې شکه زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم او زما ژوند او مرګ هر څه د مخلوقاتو رب الله لره دي (١٦٢). چې هيڅ شريك نه لري...) [الأنعام سورت: ١٦٢-١٦٣]، او له سنت څخه يې دليل دا دی:

"لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ".

«پر هغه چا دې د الله لعنت وي چې د الله نه غير د بل چا لپاره حلاله کوي».

او د نذر دليل د الله تعالى دا قول دى:

﴿يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ۝٧﴾

(هغوى نذر پوره کوي او له هغې ورځې ډارېږي چې د هغې شر خپور دى). [الإنسان سورت: ٧ آيت].

## [دويم اصل]

په دلايلو سره د اسلام د دين پېژندل، چې هغه: الله تعالى ته په توحيد سره تسليمېدل، د اطاعت له لارې هغه ته غاړه اېښودل، او له شرک او مشرکانو څخه بېزاري ده.

او هغه درې مرتبې لري: اسلام، ايمان او احسان.

او هره مرتبه خپل ارکان لري.

د اسلام ارکان پنځه دي: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله رسول دى، لمونځ قايمول، زکات ورکول، د رمضان روژه نيول او د بيت الله الحرام حج کول.

نو د ګواهۍ ورکولو دليل د الله تعالى دا قول دى:

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝١٨﴾

(الله په خپله د دې خبرې شاهدي وېلې ده چې له هغه پرته

بل هېڅوک مستحق د عبادت نشته او ملايکې او ډول اهل علم هم په ريښتيني او منصفانه توګه پر دې شاهدان دي چې له هغه زورور با حکمته ذات څخه پرته په واقع کې هېڅ بل لايق د عبادت نشته. [آل عمران سورت: ايت ١٨].

او معنا يې دا ده چې: له الله پرته بل هيڅ حق معبود نشته.

(لَا إِلَٰهَ) د ټولو هغو شيانو نفي کوي چې له الله پرته يې عبادت کېږي.

"إِلَّا اللَّهُ" يوازې الله ته د عبادت اثبات.

د هغه په عبادت کې شريک نشته، لکه څنګه چې د هغه په پاچاهۍ کې شريک نشته.

او تفسير يې داسې دی چې د الله تعالی دې قول روښانه کړی دی:

﴿وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦٓ إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ٢٦ إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي..﴾

(او کله چې ابراهيم خپل پلار او قوم ته وويل: بېشکه زه له هغه څه بېزار يم کوم چې تاسو يې عبادت کوئ (٢٦)

پرته له هغه (الله) چې زه يې پيدا کړی يم..) [الزخرف سورت: ٢۶- ٢٧ ايتونه]، او د الله تعالی وينا:

﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا

مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ﴿٦٤﴾

(ورته ووايه اى اهل كتابو هغه خه ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ يو برابر دى، دا چې د الله نه پرته بل څه به نه لمانځو، نه به څه شى ورسره شريكوو او نه به څوك له الله پرته يو بل د خدايانو په توګه نيسي، نو كه وګرځېدل بيا ورته ووايئ تاسو شاهدان اوسئ چې موږ مسلمانان يو). (د آل عمران سورت: ۶۴ ايت)

او د دې ګواهى دليل چې محمد د الله رسول دى، د الله تعالى دا قول دى:

﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ﴿١٢٨﴾

((دا دى) تاسو ته يو داسې رسول راغلى چې خپله له همدا تاسو څخه دى، څه چې تاسو كړوي هغه په ده ډېر ګران (او درانه) تماميږي، ستاسې د ښېګڼې حريص دى، پر مومنانو مهربان خواخوږى دى). [التوبة سورت: ايت ۱۲۸].

او د دې ګواهى وركولو معنا چې محمد د الله رسول دى دا ده چې: په كومو شيانو هغه امر كړى په هغو كې يې طاعت وشي، د كومو شيانو په اړه يې چې خبر وركړى په هغو كې ريښتينى وګڼل شي، له كومو شيانو يې چې منع كړې او رټلي يې دي له هغو ډډه وشي، او دا چې د الله عبادت يوازې په هغو شيانو وشي چې د هغه په شريعت كې دي.

او د لمانځه، زكات او د توحيد د تفسير دليل د الله تعالى دا

قول دی:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ٥﴾

(او هغوی ته (هم) بل څه امر نه و شوی، پرته له دې چې د الله عبادت وکړي، په داسې حال کې چې هغه لره د خپل دین سوچه کوونکي حق پلوي اوسي، لمونځ دې ترسره کوي، زکات دې ورکوي او همدا سم صحیح دین دی). [البینة سورت: ۵ ایت].

او د روژې دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ١٨٣﴾

(اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! پر تاسې روژه فرض کړی شوې ده لکه څنګه چې ستاسې پر پخوانیو فرض کړی شوې وه، د دې لپاره چې تاسې پرهېزګاران شئ). (البقره سورت: ۱۸۳ ایت)

او د حج دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿...وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾

(او پر خلکو د الله دا (فرض حق) دی، د دې کور (بیت الله) حج (قصد کول په نیت د حج)، پر هغه چا چې هغه (بیت

الله) ته د تګ توان لري او څوک چې کافر شو (د دې امر له منلو انکار وکړي)، نو بېشکه چې الله له ټولو عالميانو بې نيازه دی). [آل عمران سورت: ايت ۹۷].

دوهمه مرتبه: ايمان؛ او هغه څه د پاسه اويا څانګې لري، لوړه يې د لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ ويل دي، او ښکته يې له لارې څخه د ضررې شي لرې کول دي، او حياء د ايمان يوه څانګه ده.

ارکان يې شپږ دي: چې پر الله تعالی، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو، د آخرت پر ورځ او د تقدير په خير او شر ايمان ولرې.

د دې شپږو ارکانو دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ...﴾

((يوازې دا کار) نيکي نه ده چې تاسي خپل مخونه ختيځ يا لوېديځ لوري ته (په لمانځه کې) واړوئ؛ بلکې (غوره) ښېګڼه (نيکي) هغه ده چې څوک پر الله، د قيامت پر ورځ او ملايکو او کتابونو او پر پيغمبرانو ايمان راوړی وي...) [البقرة سورت:۱۷۷ ايت].

او د تقدير دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾﴾

(بېشکه موږ هر شی په يوه ټاکلي اندازه پيدا کړي). [القمر

سورت: ایت ۴۹].

درېیمه مرتبه: احسان -یو رکن- دی، او هغه دا چې د الله تعالی عبادت داسې وکړې لکه ته چې هغه وینې، او که ته هغه نه وینې، نو هغه خو تا ویني.

او دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ۝١٢٨﴾

(بې شکه الله هغو کسانو سره (مل) دی چې تقوی کوي او هغوی چې نیک چاري دي). [النحل سورت: ایت ۱۲۸].

او د الله تعالی قول دی:

﴿وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ۝٢١٧ ٱلَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ۝٢١٨ وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ۝٢١٩﴾

(او پر ډېر مهربان برلاسي (الله) بروسه وکړه (۲۱۷) هغه ذات چې تا ویني کله چې پاڅېږې (۲۱۸) او په سجده کوونکو کې ستا اوړېدل (پربوتل پاڅېدل وینې). (د الشعراء سورت: ۲۱۷- ۲۱۹ ایتونه)

او د الله تعالی وینا:

﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأۡنٖ وَمَا تَتۡلُواْ مِنۡهُ مِن قُرۡءَانٖ وَلَا تَعۡمَلُونَ مِنۡ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُودًا إِذۡ تُفِيضُونَ فِيهِ...﴾

(او ته چې په هر حالت کې اوسې او له قرآنه چې هر څه لولې او (ای خلکو) تاسو چې هر څه عمل کوئ (په هر حال

مورږ پر تاسو شاهد يو کله چې تاسو پکې بوخت (لګيا ياست...) [يونس سورت: ايت ۶۱] ايت.

(له سنت څخه يې دليل): د جبريل (عليه السلام) مشهور حديث دی، چې له عمر رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي چې:

"بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ، إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ، شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ، لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ، وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ، حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ، وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ !

«يوه ورځ مورږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، ناڅاپه يو سړی را ښکاره شو، چې تکې سپينې جامې او تک تور ويښته يې وو، پر هغه د سفر کومه نښه نه ښکارېده او له مورږ هيڅوا هغه نه پيژندلو، تر دې چې نبي صلى الله عليه وسلم ته کښيناست، خپل زنګونه يې د هغه له زنګونو سره ولګول او لاسونه يې پر ورنو کېښودل، او ويې ويل: اې محمده!

أَخْبِرْنِي عَنِ الإِسْلَامِ؟

داسلام باره کې خبر راکړه؟

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: الإِسْلَامُ: أَنْ تَشْهَدَ أَلَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ،

وَتَحُجَّ البَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا، قَالَ: صَدَقْتَ – فَعَجِبْنَا لَهُ، يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ –.

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: اسلام دا دی چې ګواهي ورکړې پدې چې په حقه د عبادت وړ نشته مګر یوازې الله دی او دا چې محمد -صلی الله علیه وسلم- د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې، او د بیت الله حج وکړې که له وسې دې پوره وه، هغه وویل: رښتیا دې وویل. - نو موږ ورته حیران شو، چې پوښتنه هم ترې کوي او تصدیقوي یې هم -.

قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ؟

ویې ویل: نو د ایمان په اړه خبر راکړه؟

قَالَ: أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ، قَالَ: صَدَقْتَ.

هغه وفرمایل: "چې په الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو، د آخرت په ورځ، او د خیر او شر په تقدیر ایمان ولرې". هغه وویل: "رښتیا دې وویل".

قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ؟

ویې ویل: نو د احسان په اړه خبر راکړه؟

قَالَ: أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ.

ویې فرمایل: «چې د الله داسې عبادت وکړې لکه ته یې

چې وینې، که چیرته یې ته نه وینې نو هغه خو تا ویني».
قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ؟

ویې ویل: نو د قیامت په باره کې ما خبر کړه؟
قَالَ: مَا الْمَسْؤُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ.

هغه وویل: «پدې (ځواب) له پوښتونکي څخه پوښتل شوی ډېر نه پوهېږي».
قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا؟

ویې ویل: نو د هغې له نښو څخه ما خبر کړه؟
قَالَ: أَنْ تَلِدَ الأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الحُفَاةَ العُرَاةَ العَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ، يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ.

ویې فرمایل: دا چې وینځه خپله مالکه وزیږوي، او دا چې ته به لغړې پښې، لوڅ، بېوزله د پسونو شپانه وینې، چې د ودانیو په لوړولو کې به یو پر بل سبقت کوي.
قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا، ثُمَّ قَالَ لِي: يَا عُمَرُ! أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟ قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ، أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ".

(عمر رضي الله عنه وويل:) بيا هغه روان شو، يو څه وخت تېر شو، بيا (رسول الله ﷺ) وويل: «اې عمره! آيا ته پوهېږې چې پوښتونکی څوک و؟» ما وويل: الله او د هغه

رسول بنه پوهيږي، ويې فرمايل: «دا جبريل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو دين درووښايي».

## [دريم اصل]

د خپل نبي محمد ﷺ پيژندنه: هغه محمد زوی د عبد الله، زوی د عبد المطلب، زوی د هاشم دی، هاشم له قريشو څخه دی، قريش له عربو څخه دي، او عرب د اسماعيل زوی د ابراهيم الخليل له اولادې څخه دي - پر هغه او زموږ پر نبي دې غوره درود او سلام وي-.

هغه درې شپېته کاله عمر درلود، څلوېښت يې له نبوت وړاندې او درويشت يې د نبي او رسول په توګه.

په اقرأ باندې نبي او په مدثر باندې رسول شو، او د ده ښار مکه ده.

الله تعالی له شرک څخه په وېرولو او توحيد ته په بللو باندې مبعوث کړی دی، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ۝١ قُمۡ فَأَنذِرۡ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ۝٤ وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ۝٥ وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ۝٧﴾

(اې په جامه کې ځان نغښتونکيه (۱)

پاڅېږه او خبرداری ورکړه (۲)

او د خپل پالونکي لويي بيان کړه (۳)

او خپلې جامې پاکې وساته (۴)

او له هري پليتۍ څخه ډډه وکړه (۵)
او داسي بنېګڼه مه کوه چې (بدل) زياتوالی يې غواړې(۶)
او پالونکي ته دې صبر کوه) [المدثر سورت: ۱- ۷ ايت].
او د
﴿قُمۡ فَأَنذِرۡ﴾
معنا: له شرک څخه يې ويروي او توحيد ته بلنه ورکوي.
﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ﴾
يعني: په توحيد سره يې عظمت بيان کړه.
﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ﴾
يعني: کړني دې له شرک څخه پاکې کړه.
﴿وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ﴾
الرُّجْز: بتان، او پرېښودل يې: پخپله د بتانو پرېښودل، او له هغوی او مشرکانو څخه بيزاري.
لس کاله يې همداسې توحيد ته په بلنه تېر کړل، له لسو کالو وروسته د اسمان په لور بوتلل شو او پنځه لمونځونه پرې فرض شول، بيا يې مکه کې درې کاله لمونځ وکړ او له هغې وروسته ورته مدينې ته د هجرت امر وشو.
او هجرت د شرک له هېواد څخه د اسلام هېواد ته تللو ته وايي.

او د شرک له هېواد څخه د اسلام هېواد ته هجرت کول پدې امت فرض دي، او دا حکم د قیامت تر راتللو پورې پاتې دی.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ قَالُوٓاْ أَلَمۡ تَكُنۡ أَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَاۚ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ٩٧ إِلَّا ٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهۡتَدُونَ سَبِيلًا ٩٨﴾

(بې شکه هغه کسان چې ملايکې يې سا اخلي په داسې حال کې چې پر خپلو ځانو ظالمان وو، (ملايکې) ورته وايي په څه حال کې وئ؟ دوی به وايي موږ په ځمکه کې کمزوري وو، ورته وايي آيا د الله ځمکه پراخه نه وه چې هجرت مو پکې کړی وی؟ نو د دې خلکو استوګنځی جهنم دی او هغه د ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی (۹۷)

پرته له هغو کمزورو نارينه و، ښځو او ماشومانو چې نه څه چاره لري او نه کومه لار پېژني) [النساء سورت : ۹۷ - ۹۸ ایتونه].

او د الله تعالی دا قول:

﴿يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٌ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ٥٦﴾

(اې زما هغو بندګانو چې ايمان يې راوړی بې شکه زما زمکه پراخه ده نو يوازې زما عبادت وکړئ). [العنکبوت سورت: ۵۶ ايت].

بغوي رحمه الله وايي: «د دې آيت د نزول سبب دا دی: چې دا د هغو مسلمانانو په اړه دی چې په مکه کې وو او هجرت يې نه و کړی، الله ورته د ايمان په نوم غږ وکړ».

او له سنتو څخه پر هجرت باندې دليل د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- دا قول دی:

"لَا تَنْقَطِعُ الهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ، وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا".

«هجرت تر هغه بنديږي تر څو چې توبه نه وي بنده شوې، او توبه تر هغه نه بنديږي تر څو چې لمر له لويديځه نه وي راپورته شوی».

کله چې په مدينه کې ځای پر ځای شو؛ د اسلام د پاتې نورو احکامو امر ورته وشو - لکه: زکات، روژه، حج، اذان، جهاد، امر بالمعروف او نهی عن المنکر - پدې کې يې لس کاله تېر کړل.

هغه صلى الله عليه وسلم وفات شو او دين يې پاتې شو، دغه يې دين دی، هيڅ خبر يې ندی پرېښی مګر دا چې خپل امت ته يې ورښودلی، او هيڅ شر يې ندی پرېښی مګر دا چې خپل امت يې ترې ويرولی.

او هغه خير چې ده خپل امت ته ښودلی؛ توحيد او ټول هغه

څه دي چې د الله خوښ دي او پرې راضي کیږي.
او هغه شر چې امت یې ځینې ویرولی؛ شرک او ټول هغه څه دي چې د الله نه دي خوښ او منع یې ترې کړې ده.
الله ټولو خلکو ته مبعوث کړ او د هغه طاعت یې پر پیریانو او انسانانو ټولو فرض کړ، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:
﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا...﴾
(ووایه: ای خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول یم...)
[الأعراف سورت:۱۵۸ ایت].
او الله تعالی پرې دین بشپړ کړی دی؛ دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:
﴿...ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَـٰمَ دِينًا...﴾
(...نن مې ستاسو دین درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دین په توګه درته غوره کړی دی...) [المائدة سورت: ۳ ایت].
او د هغه پر وفات دلیل د الله تعالی دا قول دی:
﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾﴾
(بېشکه ته مړ کېدونکی یې او دوی هم مړه کېدونکي دي(۳۰)

بيا به تاسي (ټول) د قيامت په ورځ د خپل رب پر وړاندې جګړې کوئ) [سورت الزمر: ۳۰-۳۱ ايتونه].

او خلک چې کله مړه شي نو بيا به راژوندي کيږي، دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿مِنْهَا خَلَقْنَـٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾﴾

(له همدې (زمکې) مو تاسو پيدا کړئ، همدې ته مو بېرته ورولو او له همدې به مو بل وار (هم) راوباسو). [طه سورت: ۵۵ آيت]، او د الله تعالى دا وينا:

﴿وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ﴿١٨﴾﴾

(او تاسي يې له ځمكې (په يوه خاص ډول راوټوكولئ(۱۷)

بيا به مو بېرته هغې ته ورستانه کړي او (بيابه مو) ترې راوباسې په راويستلو سره). [سورت نوح: ۱۷ - ۱۸ ايتونه].

او له بيا ځل راژوندي کېدو وروسته به حساب ورسره کيږي او د اعمالو بدله به ورکول کيږي، دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿...لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ أَسَـٰٓـُٔوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ بِٱلْحُسْنَى﴾

(...تر څو بد عمله کسانو ته د خپلو عملو بدله ورکړي او چا چې ښه کړي هغه ته په ښو سره بدله ورکړي) [سورت النجم: ۳۱ ايت].

او چا چې پر بعث تکذيب وکړ کافر شو، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧﴾

(کافرانو دا خيال (او دعوا) کړې چې بيا به هغوی را ژوندي نه شي، ورته ووايه: ولې نه! زما په رب قسم چې تاسي به را ژوندي کيږئ او څه مو چې کړي پر هغو به خبريږئ او دا پر الله ډېره اسانه ده). [التغابن سورت: ۷ آيت].

او الله ټول پيغمبران زيری ورکوونکي او وېروونکي ليږلي دي، دليل يې د الله دا قول دی:

﴿رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ...﴾

(دا ټول) رسولان زيری ورکوونکي او وېروونکي (ليږل شوي وو) تر څو له رسولانو وروسته خلکو ته د الله پر وړاندې کوم دليل پاتې نه شي...) (النساء سورت: ۱۶۵ ايت)

لومړنی يې نوح عليه السلام و.

او وروستی يې محمد صلى الله عليه وسلم دی، او هغه خاتم النبيين دی، له هغه وروسته بل نبي نشته؛ او دليل يې د الله

تعالی دا قول دی:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ...﴾

(محمد (صلی الله علیه وسلم) ستاسي له نارینه و ښځه د هیچا پلار نه دی مګر هغه د الله رسول او خاتم (وروستی) د پیغمبرانو دی...) [الأحزاب سورت: ۴۰ ایت].

د دې دلیل چې نوح یې لومړی دی، د الله دا قول دی:

﴿إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ...﴾

(یقیناً موږ تا ته هماغه شان وحې درلیږلې ده لکه نوح او له هغه وروسته نبیانو ته مو چې ورلیږلې ده...) [النساء سورت: ۱۶۳ایت].

او له نوح نه تر محمد صلی الله علیه وسلم پورې هر امت ته الله رسول لیږلی دی، چې یوازې د الله پر عبادت یې ورته امر کړی او د طاغوت له عبادته یې منع کړې دي، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ...﴾

(او موږ هر ولس ته یو رسول ولیږه چې (یواځې) د الله تعالی عبادت وکړئ او له باطلو معبودانو ځان وساتئ...) (النحل سورت: ۳۶ ایت).

او الله پر ټولو بندګانو فرض کړې چې پر طاغوت کفر

وکړي او پر الله ایمان ولري.

ابن القیم رحمه الله فرمايي: «د طاغوت معنا دا ده: چې بنده پر کوم معبود، یا پیروي کېدونکي او یا طاعت کېدونکي باندې له حده تېری وکړي».

او طاغوتان ډېر دي، خو سرکرده يې پنځه دي: ابلیس لعنه الله، او هغه څوک چې عبادت یې کېږي او دی پرې راضي وي، او هغه څوک چې خلک خپل عبادت ته وربولي، او هغه څوک چې د غیبو له علم څخه د کوم شي دعوه کوي، او هغه څوک چې د الله له دین پرته په بل شي فیصلې کوي.

دلیل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٥٦﴾

(په دین (منلو) کې زور نشته، سمه لار له بې لارۍ څخه څرګنده شوې ده، نو څوک چې د طاغوت (شیطان او بت) څخه منکر شي او په الله ایمان راوړي نو په داسې ټينګې کړۍ يې منګولې ولګولې چې پرې کېدل يې نشته او الله اورېدونکی پوه دی). [البقرة سورت: ۲۵۶ ایت]، او همدا د "لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ" معنا ده، او په حدیث کې دي:

"رَأْسُ الأَمْرِ: الإِسْلَامُ، وَعَمُودُهُ: الصَّلَاةُ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ: الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ".

"د دین سر اسلام دی، او ستن یې لمونځ دی، او لوړه څوکه یې د الله په لار کې جهاد دی".
او الله ښه پوهیږي.

❋❋❋

# فهرس

درې ګوني اصول او دلايل يې ........................................ ۲
[لومړی اصل] ............................................................ ٦
[دويم اصل] ............................................................ ۱۳
[دريم اصل] ............................................................ ۲۲

❋❋❋

ps۳٦v۲,۰ - ۲٦/۰۹/۲۰۲٦

حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

# Message of The Two Holy Mosques

Guidance content for the visitors of the Holy Mosque and the Prophet's Mosque in languages.

978-603-8402-01-6